# رسنیزه اعلامیه

دربیم درې میاشتینی څارنیز راپور: په پوهنې وزارت کې د اصلاحاتو پیل

کابل، افغانستان – ۱۳۹۷ کال د کب ۲۱مه: د څارنې او ارزونې کمیټې په پوهنې وزارت کې د اداري فساد د زیانمننو ارزونې راپور د ۱۳۹۶هـ ل کال د لړم په څلورمه نېټه خپور کړ. په دې راپور کې د هغو نیمګړتیاو او کمزوریو د تشخیص سربېره چې پوهنیز نظام د اداري فساد په وړاندې زیانمونکی کوي، د پوهنیز نظام په ټولو برخو کې د اصلاحاتو په موخه ۱۱۳ سپارښتنې وړاندې شوي دي. د څارنې او ارزونې کمیټه د خپلو سپارښتنو د تطبیق بهیر په منظم ډول څاري او په اړه یې څارنیز راپورونه د رسنیو له لارې خپروي. د یادې کمیټې دربیم څارنیز راپور چې اوس خپرېږي، څرګندوي چې په دغه څارنېزه دوره کې چې د ۱۳۹۷کال د وږي څخه تر لیندۍ میاشتو پورې موده رانغاړي، د پوهنې وزارت او له دغه وزارت سره نور همکار ګډونوال نه دي توانیدلې چې د څارنې او ارزونې کمیټې لخوا د ټولټال ۱۱۳ مطرح شوو سپارښتنو له ډلې کومه نوې سپارښتنه په بشپړ ډول پلي کړي. خو بیا هم، د یاد وزارت له لورې د سپارښتنو په تطبیق کې نسبي پرمختګ شوی.

هغه سپارښتنې چې د څارنې بهیر له پېل راهیسې په بشپړه توګه پلي شوي دي، زیاتره یې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون له لورې د ښوونکو د ګمارنې بهیر اړوند او یوه برخه یې په مستقیم ډول د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په دې پرمختګونو کې، د پوهنې وزارت د تشکیل بیا کتنه او کوچنی کول، د مېرمنو د ونډې زیاتوالی، د پالیسیو بیا کتنه او تدوین، د ګمارنې په پروسه کې د روڼتیا تامین او د ګمارنې بهیر برېښنائي کول، شامل دي.

د څارنې په دې ربع کې یواځې دوه نورې سپارښتنې تر ۵۰٪ پلي شوې دي. په دې ترتیب، د هغو سپارښتنو شمېر ۱۶ ته لوړ شو چې د یادې ارزونې له خپریدو راهیسې تر ۵۰ سلنې پلي شوې دي. په دغو نیمه تطبیق شوو سپارښتنو کې، د ښوونکو د ګمارنې بهیر د څارنې په فعالیتونو کې سیمه ایزو مدني ټولنو ته ونده ورکول، کلیدي ګډونوالو سره د همکارۍ او سلا مشورو پوسیله د نصاب د جوړښت ارزونه او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو کمیسیون له لورې د پوهنې وزارت د ګمارنو، په ځانګړې توګه د لومړیو او دویمو بستونو دګمارنې بهیر برېښنائي کول، شامل دي.

همدارنګه، په دربیمه څارنېزه ربع کې، د ۱۱۳ سپارښتنو له ډلې ۱۵ سپارښتنې تر ۲۵٪ پلي شوې دي چې په تېره ربعه کې د دې ډول سپارښتنو د تطبیق شمېر یواځې ۷ و او په دې ربعه کې دا یو ښه پرمختګ بلل کېږي. په دې سپارښتنو کې، د نویو ښوونځیو په جوړولو کې د سیمه ایزو ساختماني توکو کارونه، د ښوونکو د معاشاتو ورکړې لپاره د برېښنائي لارو چارو زیاتوالی (چې اوسمهال یواځې ۶۲٪ معاشونه له دې لارې ورکول کېږي)، د دولسم ټولګیو فارغینو ته د شهادتنامو د وېش بهیر برېښنائي کول، او د ډېټا ټولولو او تائید په موخه په ۳۳ ولایتونو کې د پوهنې وزارت د کارکوونکو زیاتوالی، شامل دي.

د څارنې په دې پړاو کې، د ۳۸ سپارښتنو په تطبیق کار پیل شوی. د یادونې وړ ده چې د ټولټال ۱۱۳ سپارښتنو له ډلې په ۶ سپارښتنو هېڅ کار نه دی شوی. په داسې حال کې چې د ۲۲ سپارښتنو د تطبیق کار راتلونکې ته ځنډول شوی دی.

په پوهنې سکتور کې رهبریت او د اصلاحاتو اجنډا

د څارنې او ارزونې کمیته په هره څارنېزه دوره کې د ځانګړو مواردو مطالعه ترسره کوي. په دې ترڅ کې، په دغه درېیمه څارنېزه دوره کې، د څارنې او ارزونې کمیټې موضوعي تمرکز په پوهنې سکتور کې د اصلاحاتو اجنډا ته ځانګړې شوی و. د یادې کمیټې په دغه راپور کې، په پوهنې وزارت کې د اداري فساد د زیانمننو په وړاندې مبارزې او اصلاحاتو په موخه د رهبرۍ رول کلیدي بلل شوی دی. د یاد وزارت په رهبرۍ کې له بدلونونو وروسته د پام وړ پرمختګ شوی او په مرکز او د ولایتونو په کچه په دغه سکتور کې اصلاحات ترسترګو شوي دي چې د هغو له ډلې کولی شو د پوهنې وزارت د «هر اړخیزو اصلاحاتو پلان» د تصوېبولو یادونه وکړو چې د پوهنې وزارت د لویو اصلاحي برنامو څخه شمېرل کېږي.

د اصلاحاتو په موخه د پوهنې وزارت نوري کلیدي هڅې

- د پوهنې وزارت د نویو ښوونځیو د جوړولو، تدارکاتو، ګمارنو او د مسلکي او تخنیکي زده کړو چارې او مسؤلیتونه نورو ادارو ته سپارلي دي، او دا کار د پوهنې وزارت ته وړتیا ورېخښي چې د زده کړو د برابرولو په برخه کې په خپلو اساسي ژمنتیاو ډېر تمرکز وکړي.
- پوهنې وزارت د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون او نړیوال بانک سره په ګډه یوه څېړنه په لار اچوولې ده څو نیمګړتیاوې او خلاوې په نښه او رسیدنه ورته وکړي. د دغه څېړنې پربنسټ، د وزارت د رهبرۍ او کارکوونکو دندې باید مشخص شي، وظیفوي تداخل او د اداري تشکیل تراکم په نښه او له منځه یوړل شي، کم کارۍ او د کارکوونکو کموالی باید مشخص شي او همدارنګه تثبیت شي چې په ځینې برخو کې د نوې اداري رامنځته کولو ته اړتیا شته او کنه.
- د واک وېشلو (غیرمرکزي کولو) طرحې د ملاتړ په موخه، یاد وزارت د ولایتونو په کچه اداري وړتیاوو د لوړولو او ظرفیتونو د روزلو په موخه اقدامات ترسره کړي دي.
- بل اقدام چې په دې څارنیزه دروه کې ترسره شوی د بشري سرچینو د معاشاتو د ورکړې مدیریت معلوماتي سیستم جوړول دی چې د بشري سرچینو د مدیریت معلوماتي سیستم او د پوهنیز مدیریت معلوماتي سیستم سره به یو ځای شي. د پوهنې وزارت باور لري چې د دې طرحې تطبیق به له یاد وزارت سره مرسته وکړي چې لا ډېر دقیق معلومات او ارقام راټول کړي.
- په پوهنیز سکتور کې د ښځو د ونډې زیاتوالی هم د یادونې وړ دی. د بېلګې په ډول، په کابل کې د ۵۰ ریاستونو له ډلې د ۹ ریاستونو رهبري به په مشخص ډول مېرمنو ته وسپارل شي. د ښوونکو د روزنې مرکزونو یا دارالمعلمینو ۱۱ ریاستونه مېرمنو ته ځانګړې کول او د ښوونکو نوو ۸۰۰۰ بستونو له ډلې سم نیم یې د ښځو لپاره ځانګړې کول د ښځو د ونډې د زیاتولو بل مهم ګام دی.

- د پوهنې وزارت له لورې د دندو لایحو، کړنلارو، تګلارو او پالیسیو ارزول او په ویبپاڼه تر دوه اونیو خپرول څو په اړه یې د خلکو تبصرې او نظرونه ترلاسه شي چې دا یو بې ساری ګام دی.

###